الدرس الثامن عشر | اتلسم درس
زهد النبي ﷺ | زُهد د دنيا نه بے رغبتي

د زهد لفظ د هغه انسان دپاره استعمالیږی ، چې د هغه دپاره د دنیا نعمتونه بسیاره وی ، لیکن هغه د بے رغبتي د وجې نه تری مخ اړوی ، او نبی ﷺ د هر چانه زیات د دنیا نه ډیر بے رغبتي کونکے وو ، هغه سه چې د سخت ضرورت پورا کولو دپاره به کافی وه په هغې باندی به راضي وو ، سخته زندګی ئې تیروله ، حقیقت کښې نبی ﷺ د الله تعالی محبوب وه که د الله تعالی نه ئې مطالبه کړې وی ، الله تعالی به ورله هرقسمه نعمتونه ورکړی وو ، امام ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر کښې د خیثمه ﷺ په روایت باندی نقل کوی چې نبی کریم ﷺ ته د الله تعالی د طرفنه دا پیشکش وکړی شو چې که ستا خوښه شی ، د زمکې ټولې خزانئ به ستا مخې ته خاضری شی د هغې د ټولو چابیانو مالک به ته ئې ، دومره مال دولت به الله تعالی درکړی ، چې مخکښې هیڅ یو نبی ته ئې ندی ورکړی او نه به روستو چاته دومره ورکړی ، او ددی د وجې به ستا د الله تعالی په نیز هیڅ قسمه کموالی هم نه راځی ، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : دا ټول نعمتونه زما دپاره آخرت ته أوساتلی شی د نبی ﷺ دنیوی زندګی ډیره حیرانونکے ده ، أبوذر ﷺ فرمائی ، زه د نبی کریم ﷺ سره د مدینې په کاڼرجنه زمکه کښې روان ووم ، ناګهانه د أحد غر مخکښې ته ښکاره شو، نبی کریم ﷺ وفرمائیل: زه په دی خبره هیڅ کله هم نه خوشحاله کیږم ، چې زما سره دی د أحد د غر په مقدار باندی سرزر وی او دری ورځو کښې د هغې نه ماسره یو درینا هم پاتې شوی وی ، مګر صرف دومره مقدار چې خپل قرض وربانذی آداء کړم او باقی د الله تعالی په بندګانو باندی ښۍ طرفته او ګس(چپ) طرفته مخکښې او روستو ټول مال تقسم کړم ، نبی کریم ﷺ به فرمائیل: زما د دنیا سره څه کار دی ، زما مثال پشان د هغه شاه سوار مسافر دی چې د یوی ونې سُوری ته دمه وکړی او بیا د هغه ځائی نه روان شی،

**خوراک څښاک او لباس:** د نبی ﷺ د خوراک دا حال وو ، چې یوه میاشت دوه میاشتی دری میاشتی به کله تیری شوی او د نبی کریم ﷺ په کور کښې به أور قدرته هم بل نشو ، بس دوه تور څیزونو باندی به ئې ګزاره کوله کجهوری او أوبه ، کله به ټوله ورځ د لوږی د وجې نه په تکلیف کښې وو، او د خوراک به هیڅ هم نه وو چې خوړلی ئې وی ، په عمر چرته نبی کریم ﷺ د میده أوړو ډوډی نده خوړلی ، د نبی کریم ﷺ خادم فرمائی ، چرته نبی ﷺ دوه وخته مسلسل ډوډی او د غوښې شوروه ندی خوړلی وی ، مګر که چرته میلمانه به راغلی وو ، نبی کریم ﷺ به لباس هم ډیر قیمتی نه استعمالو ، صحابه رضوان الله علیهم أجمعین فرمائی ، نبی ﷺ د لباس متعلق ډیر بے تکلفه وو ،که چرته نبی ﷺ غوښتلی نو قیمتی لباس به ئې استعمال کړی وی ، یو صحابی د نبی ﷺ د لباس ذکر کوی فرمائی ، د څه خبری دپاره زه د نبی ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم ، د نبی ﷺ لنګ مبارک د غټی وړئ واله کپړه وه ابو بردة رحمه الله د عائشة رضی الله عنها په خدمت کښې حاضر شو ، هغې یو څادر رواغستو چه پیوند پکښې لګیدلی وو او یو لنګ چه د غټی وړئ واله وو، او بیا ئې أوفرمائیل: رسول الله ﷺ پدی کپړو کښې د دنیا نه رخصت شوی دی ، أنس ﷺ فرمائی ، زه د رسول الله ﷺ سره روان ووم ، او د نبی ﷺ په بدن مبارک باندی نجرانی څادر وو چې د هغې غاړی غټی غټی وی،

نبی ﷺ د وفات په وخت کښې د ځان نه روستو هیڅ قسمه دینار ، درهم ، غلامان او وینځی نوی پرینښودلی ، سواء د یو سپین قچر ، ذاتی اسلحه او سه معمولی زمکه چې هغه ئې هم صدقه کړی وه ، عائشة رضی الله عنها فرمائی ، چې کله رسول الله ﷺ د دنیا نه رخصت شو زمونږه په کور کښې د خوراک څښاک دپاره هیڅ نه وو ، د رسول الله ﷺ د وفات په وخت کښې د هغه زغرا د یو یهودی سره د سه وربشو په عوض کښې په ګروی کښې پرته وه .